






د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيته : اول می ۲۰۱۳ ميلادی

# حيران يم

خندا خو دی لا پرېږده ستا خمار ته زه حيران يم
ملندی خو دی زغمـم ستـــا آزار ته زه حيران يم
ستا مينه کی سوری شو دازړگی پما يقين نه کړی
دزړه عشق که ريا ده نوپرهار ته زه حيران يم
د عشق دنيا بوستان دی هره خوا ښکلی گلان وينم
هر گل می ښه خوښېږی خس او خار ته زه حيران يم
هر خوا وينم خندا ده خوشحال ده جدای نشته
لاس په زنه ناست يمه خپل يار ته زه حيران يم
يار ديار پوشتنه کړی زه يار لرم ياری نه کړی
نه يار شته او نه مينه دی روزگار ته زه حيران يم
محب وای که قدم اړدی نو په زړه باندی می ولی ؟
مقصد که دی ديدار دی ستا ديدار ته زه حيران يم

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی -[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)